# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

دویم کال - ۲۴مه ګڼه | پرله‌پسې ۳۸مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۶/۲۷



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج پروژې عملي پېل

۲- د سړو خونو جوړوونکو ته پنځه کلن مالیاتي معافیت

# د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج پروژې عملي پیل



د روانې اوونۍ د یکشنبې په ورځ د افغانستان د اقتصادي پرمختګ په لوري یو مهم ګام واخیستل شو. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د افغانستان اسلامي امارت د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري له کام انرژۍ او ازبیکستاني شرکت سره د فاریاب او جوزجان د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج پروژې د عملي چارو د پیل تړون لاسلیک شو.

د تړون د لاسلیک پرمهال د کانونو او پټرولیم وزارت وزیر ملا هدایت الله بدري، د ازبیکستان د ولسمشر ځانګړي استازي عصمت الله ارګاشوف، د بلخ والي یوسف وفا، د ازبیکستان د انرژۍ وزارت مرستیال بختیار محمد کریموف او د کام انرژۍ ستر سلاکار انجنیر محمد ګل خلمي هم موجود وو.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو خبرو کې د یادې پروژې د چارو پیل د پانګونې برخه کې مهم ګام وباله او ویې ویل چې دا ټولو هېوادونو او پانګوالو ته پیغام ورکوي چې په افغانستان کې امنیت تامین او د هر ډول پانګونې له پاره ښه زمینه برابره ده.

د کانونو او پټرولیم وزیر وویل، د انرژۍ او طبیعي سرچینو په برخه کې د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د ملګرتیا یو نوی فصل پرانیستل کېږي او دا به د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي مشارکت یوه بېلګه وګرځي.

د ازبیکستان د ولسمشر ځانګړي استازي له ټولو هغو کسانو څخه مننه وکړه چې د طوطي میدان د ګازو پروژې د عملي چارو د پیل په برخه کې یې هلې ځلې کړې دي.

طوطي میدان ګازو ساحه ۷۵۰۰ کیلومتره مربع مساحت لري. په یاد کان کې ۵۰ ساختماني جوړښتونه تثبیت شوي او شاوخوا ۳۰ ژورې څاه ګانې لري. دغه تړون د ۲۵ کلونو له پاره دی، چې د تړون له مخې به په سیمه کې د کان اکتشاف، تولید او استخراج چارې ترسره کوي.

د یادې پروژې د عملي چارو پیل د هېواد د اقتصادي ودې له پاره ډېر مهم ګام دی. افغانستان د طبیعي سرچینو له مخې بډای هېواد دی، خو تراوسه یې له طبیعي سرچینو څخه سالمه استفاده نه ده شوې. د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې د هېواد له طبیعي سرچینو څخه د هېواد د اقتصادي پرمختګ او د هېوادوالو د هوساینې له پاره کار واخلي.

د یادې پروژې له امله به په هېواد کې د ګازو اړتیا تر یوه بریده پوره او پر وارداتو به تکیه راکمه شي. دغه راز، هېوادوال به په ارزانه بیه ګاز او برېښنا ترلاسه کړي. سربېره پر دې به ګڼو هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه هم برابره شي او په ټوله کې به د طوطي میدان د ګازو پروژه د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کې مهم رول ولوبوي.

# د سرو خونو جوړوونکو ته پنځه کلن مالياتي معافيت

افغانستان يو کرنيز هېواد دی. مختلفې مېوې او سبزۍ لري. د انارو، مڼو، انګورو، پیازو، روميانو او کچالو سربېره ځينې داسې مېوې او سبزۍ لري، چې هېواد په کې خودکفایي ته رسېږي او اړتيا وي، چې بل موسم ته وساتل شي او يا نورو هېوادونو ته صادرې شي.

خو ځينې مهال د ګمرکي تعرفو او لارو بنديدو له امله مو بزګر له سختو مالي زيانونو سره مخ او ډېر کرنيز حاصلات يې ضايع کېږي، چې د بزګرو سربېره د هېواد ملي اقتصاد ته زيان رسېږي.

د دې له پاره چې دغه ستونزې حل شي او د يو موسم کرنيز محصولات بل وخت ته وساتل شي، نو د سړو خونو جوړېدل يې ښه حل لاره ده. اوسمهال په هېواد کې ځينې سړې خونې شته، خو د هېواد پياوړي کرنيز ظرفيت ته په کتو دا سړې خونې کافي نه دي. د افغانستان اسلامي امارت د بزګرو او د هېواد د ملي اقتصاد د تقويې په موخه غواړي چې په هېواد کې نورې سړې خونې هم جوړې شي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون له لوري ټولو هغو شرکتونو او انفرادي سوداګرو ته، چې غواړي سړې خونې جوړې کړي، پنځه کلن مالياتي معافيت ورکړل شوی دی. اسلامي امارت دا ګام د هېواد د اقتصادي پرمختګ له پاره ډېر مهم ګڼي، ځکه د هېواد ډېره برخه وګړي په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، چې په ملي اقتصاد کې مهمه ونډه لري.

پانګوالو او شرکتونو ته په کار ده چې له دې فرصت څخه ګټه واخلي او د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې خپل مثبت رول ولوبوي.

